# پښتوافسانه په سهيلي پښتونخواکښې

## ( د پښتو،ګلستان اواولس مجلو په رڼاکښې )

ډاکټر نصرالله جان وزير
جاوېد اقبال اقبال

**Abstract**:

**An Account of the Short Stories of Southern Pashtoonkhwa;
In the context of Pashto Journals Gulistan, Ollas and Pashto:**

This paper is going to investigate the process and evolution of short story in the Pashtoon areas of Balochsitan also called as South Pashtoonkhwa. The prob mainly caters the pioneers, themes, techniques and main conceptual frameworks of the short stories. It through light on the impacts of the modern literary trends of progressive literature on the Pashto fiction generally and short story specially. A controversial discourse regarding the initial short story and first writer has been resolved through objective analysis and references of the scholars from other languages. The short story which enters from Urdu literature into Pashto as an outcome of the progressive literary movement in India, become part and parcel in the literary genres of the South Pashtoonkhwa. There were initially three consecutive journals Pashto, Gulistan and Ollas which were originated locally and cater the different short stories. These journals have played vital role in the promotion of Pashto language and literature and also have motivated the young and educated writers to express their feelings and thoughts in the peculiar literary forms. The paper elaborate the fact that there has been a gradual improvement in the themes and techniques of short story which starts from journal Pashto and get to its glory during the 7th and 8th decade of the 20th century when the famous journal 'Ollas' was incepted and continued under government supervision.

دژوند هغه خاص لمحې چې دانسان دجدي احساس له کبله دتحرير په بڼه کښې خوندي شي اوغرض ئې دانسان اوانساني ټولنې دروښانه سباوون تابيا کول وي دادب په زمره کښې راځي دغه ادب چې له ژوند څخه

راڅرګندېدلې اوژوندیو ته دژوندمرام د ټولنې دستروکردارونولوړافکارپه دانیت وړاندې کوي چې ګویا څنګه زر به انسان وکولی شي چې دیوې آفاقي ټولنې په تشکیل کښې بریالی شي .چونکې دادب په موادو کښې هم دغه د انساني ټولنې احوال اویا دچاپېریال له عام روزه واقعاتوڅخه یو څو د ارزښت وړلمحاتو ثبتېدنه ته خاص فوقیت حاصل وي،د لمحاتوپه دې احساس کښې د اولسونودلوړتیااو پرېوتیا یوداستان خوندي وي،له دې داستان څخه مراد دانساني ژوند ائینه یعنې ادب په اصل کښې دادب واړه اصناف که هغه په هر کوم صورت ولې نۀ وي په حقیقت کښې دهغه ټولنې یو عکس العمل وي اویا دهغه قوم دادب په نامه سره پېژندل کېږي،بیا څومره چې په یوه ټولنه کښې ددې باارزښته لمحاتود ثبتونکیومعیار اومقدارلوړ یا زیات وي هغومره به هغه یوه مترقي یا پرمخ تللې ټولنه بلل کېږي.

خو چونکې انساني ټولنه تل په یو کیفیت کښې نۀ پاتې کېږي،ځکه چې دارتقا یو مقام غفلت او فنا هم دے،کوم چې دبیا رغوني او بیا ورانوني په فلسفه نړۍ ته دوام وربخښي . دانسان اوانساني ټولنې ددې بهیر په تسلسل کښې هرڅومره چې انسان دخپل تمدني ژوند دلوړولوهڅې پېل کړې دي،هلته بیا انسان د رد وقبول اویا د بریا انحطاط له عمل سره هم مخامخ شوے،چې له کبله ئې دانسان فطري ژوند په مصنوعیت وو ښتے،مزکه په جاګیربدله شوې،پولې،پټي اوجغرافیائي قیود وحدود دانسان په پېژندنه اویادنسلونو اوقومونودتوپیر سبب شوي دي،داتوپیر چې وروستوپه بیله بیلو نسلونواو اولسونوبدل شوے نو د وخت، زماني اوماحول په بدلېدوسره دې نسلونوځانته ژبې اختیارکړې،هم دغه ژبې چې وروستو دنړۍ دقومونو په وېش کښې ددې یو شانته والي او یا یو تربله توپېر ستر کردار ترسره کړے،که څۀ هم نړیوال ادب (آفاقي ادب ) د جغرافیائي قیودواو یا دنسلي امتیازاتو تابع نۀ وي، ځکه چې آفاقي ادب دهرې زماني دپاره تخلیق کېږي او هم هغه دهرې ټولنې دانسان فطري غوښتنوته په خپله لمن کښې ځائ ورکوي،نۀ چې محدود او سیمه ایزمسایلوته. البته څنې ډېر داسې اولسونه شته چې هغه دیو نۀ یو نظام تحت اویا د جغرافیائي قیود وحدود دجبر لاندې له یو بل نۀ لرې ساتل شوي دي، ولې دهغوئ د ژبو اوادب اشتراك کله هم دې مصنوعي کرښو نۀ دے سره

ویشلی، په دې لړ کښې مونږ د عربي، انګریزي، کوریائي، ترکي، افریقي، پښتو، بلوچې او پارسي ادبیاتو مثال وړاندې کولې شو.

## دسهیلي پښتونخوا پښتو افسانه

هرکله چې د ۱۸۷۶ءکال راپه دې خوا داعلاقه د انګریزانو په ولقه کښې ولویده، نوله دې سره سم په دا سیمه دکلیوال ژوند ترڅنګ دښاروالۍ ژوند هم پیل شو، د تګ او راتګ هرډول زرائع دکویټې ښارته راوغزول شوې، چې په نتیجه کښې ځائي اوبهرني مالونوته د منډۍ اسانتیاوې برابرې شوې اواولس په اول وار له متمدنه ژوند سره اشناشو، هم دغسې دانتظامي، نظامي اودولتي چارو دپاره هرکله چې بیله بیل ډول اداري پرانستل شوې نو له دې څخه په دولتي اوغیر دولتي توګه یو څوخپرندویه اداري هم پرانستل شوې چې غرض ئې ددولت اواولس ترمېنځه داعتماد، خبرتیا، دربط چار ورکول او هم دغسې د علاقائي مسایلوپه اړه په اولس کښې شعوراواګاهي پیداکولو له پاره داظهاررائې احساس پیداکول وو.

دشلمې پېړۍ په درېمه لسیزه کښې دسیمې ځنې پوهانو کولې شول چې ددې وسایلو په اساس دخپل چاپېریال اوداولس دستونځوپه اړه دې دهغوئ احساسات اوجذبات سرکار ته ورسوي، په ابتداکښې دغه زرائع داردو له لارې ترسره کېدې ځکه چې داردو صحافت په درست هند کښې خپل اثر قائم ساتلې ؤ او هغوئ ډول رسنۍ دغه سیمې ته هم راغزولې وې، که څۀ هم په دې رسنیو کښې به دهغه وخت سیاسي اودولتي مسایلو په اړه زیات موضوعات شامل وو خو بیاهم څۀ قدر په کښې دعلاقائي ادب وړانګې کله نۀ کله ښکاره کېدې، دکال۱۹۳۷څخه راپه دې خوا کله چې داستقلال او خورشید ګټې راخورې شوې اوپه اول وار ددې سیمې لیکلوالو اوپوهانو په ازاده توګه سیمه ایزومسایلو ته په دې مجلوکښې فوقیت ورکړو، نو ئې په اولس کښې هم ښۀ غبر پورته شو، دا هغه مجلې وې چې څۀ قدر ئې دپښتو خپرونوته هم یو څو پاڼې وقف کړې وې اوځائي لیکوالوهڅې کولې چې خپل احساسات اوجذبات ددې له لارې له اولس سره شریك کړي، د دې مجلې په خپرېدو ځائي لیکوالوکښې دااحساس

پیداشوچې د خپلې ژبې اوادب فعالیت خواته متوجه شي،ولې ددولتې بندیزونو له کبله مسایل ورته ډېر وو نوځکه رفتار ئې څۀ قدر کم پاتې شو.

په دا مهال کله چې دپښتوادیبانو اوپوهانو محسوسه کړله چې داُردو له لارې هغه ډول اظهار ورته ګران دے څۀ ډول چې دوئ نېغ په نېغه دخپلې مورنۍ ژبې په واسطه ترسره کولے شو، نو په کال۱۹۵۳ کښې په وړومبي وار دسائي کمال خان شېراني په زیاردمیاشتینۍ پښتومجلې اجرا وشوه، ولې یو څو ګامه لانۀ وه تللے چې دسرکارله خوا ورته خنډونۀ وړاندې کړل شول، چې له سببه ئې دغه مجله په دې مشکلاتو کښې بیا تړېره و نۀ چلېده او په مکمل توګه بنده کړے شوه، خوددې سیمې دپښتو ادب په تاریخ کښې بالخصوص دافسانوي ادب په حواله دې مجلې ته چې کوم دقدر وړاهمیت حاصل دے هغه به دسیمه ایزادب په څېړنه کښې مدام یادولې شي.

ظاهره ده چې دسهیلي پښتونخوادپښتوادب په ترویج اوخپرونه کښې زیات کرداردشلمې پېړۍ مهالي رسانیو ته حاصل دے او له دې رسانیوڅخه مراد هغه ورځ پاڼې اومجلې دي چې څۀ برخه ئې علاقائي ژبو ته هم وقف کړې وه.

بیاد ۱۹۳۵ نه راپه دې خوا کله چې په هندکښې ترقي پسندتحریك شروع شونودسهیلي پښتونخوااکثرولیکونکیوهم ددغه تحریك پېروي وکړه او په خپلولیکونو کښې ئې دترقي پسندۍ رجحاناتوته ځائ ورکړو، خو دغه اثرات زیاتره تر شعري ادب پورې محدود وو ځکه چې افسانوي ادب ته ددغه سیمې لیکونکي څۀ ناوخته متوجه شوي چې وجوهات ئې ډېر زیات کېدلے شي. البته ترکومه چې په سهیلي پښتونخواکښې دجدیدپښتوادب یابالخصوص دجدیدپښتونثرتعلق دے نو په دې اړه دښاغلي بریالي صاحب داوینا په ځائے ده چې:

"دجدیدنثرنګارۍ له پلوه زمونږ سیمه بېخي پاتې معلومېږي، په افسانه ناول اوډرامه باندې ئې توجه بېخي نۀ شته"(1).

خو د بریالي صاحب له دې خبرې سره اتفاق کول بېخي ګران دي چې:

"اولنۍ افسانه دمینې تور په نامه عبدالخالق تارن لیکلې ده، اوورپسې دمحمدعلي بازي ولورمات شوده چې په اولس کښې چاپ شوه، فاروق شاه سمائلزي ځنې داستاني افسانې لیکلې دي"(2).

ترکومه چې دسهيلي پښتونخوا په جديد پښتونثر کښې دافسانوي صنف دابتدا تعلق دے نو ددې دابتد په اړه پرته له بريالي صاحب ځنې نورواديبانو هم څهٔ قدرمتضاد دعوې کړې دي، لکه ښاغلي ابوالخيرځلاند چې د سهار رسالې په حواله اوهم دغسې دښاغلي مقدس خان معصوم صاحب دعوے دورځپاڼې جنګ په حواله، (چې وروستو په تفصيل سره بحث ورباندې کېږي).

ولې د بلوچستان پوهنتون اُردوڅانګې ته داہم فل مقاله وړاندې کوونکې يوه ښېړن کاره مېرمن مبارکه حميد په خپله تحقيقي مقاله "بلوچستان ميں اردو افسانے کا تحقيقی اور تنقيدی جائزه"، کښې دسهيلي پښتونخوا پښتوافسانې شروعات د شلمې پېړۍ تر اوومې لسيزې دمخه منلوته تياره نهٔ ده، هغه ليکي چې:

"بلوچستان ميں پشتو افسانه باقاعده طور پر بيسويں صدی کے تقريباًساتويں عشرے ميں منظر عام پر آيا هے اِس وقت چند افسانه نگاروں نے اس صنف پر طبع آزمائی کی هيں اگرچه اس سے پهلے بهی چند افسانے لکهے گئے هيں. ليکن ان ميں کوئی بهی افسانه يا افسانه نگار ايسا نهيں هے جس کا ذکرکياجائے. اب موجوده دور ميں صورت حال کافی بدل گئي هے چند افسانه نگار ايسے هيں جنهوں نے اس صنف ميں کاميابی حاصل کی هيں"(3).

خو ددې ښېړن کارې دابره اقتباس په حقله به دومره ووائيو چې دپښتو ادب په باب ددې معلومات سطحي او له يو چا په زباني معلوماتو اړه لري. (په داحقله راتلونکي بحث کښې کره او مستند معلومات وړاندې کړل شوي دي.)

په مجموعي توګه که مونږ په پښتو ادب کښې د پښتو افسانې ابتدا په حقله بحث کوو نوافسانه په پښتونخواکښې هغه مهال سر راپورته کوي کله چې په درسته پښتونخواکښې پښتانهٔ اديبان دبهرني سياسي اثراتو لاندې له مغربي ادب سره اشنا کېږي، چې په دې تکل کښې ورته د مولوي احمد ګنج پښتو، دمير احمدشاه رضواني شکرستانِ افغاني اوبهارستانِ افغاني اودمنشي احمدجان هغه دغه اودقصه خوانۍ ګپ په قيصه ابز ادب کښې مضبوط بنيادونه ايښي دي، هم په دې منځومانه دورکښې د جې جې لوريمر يا لرم پېرنګي دوې قيصې چې په اې ډکشنري اف وزيري لېنګويج کښې په ۱۹۰۲کال کښې له بمبۍ څخه خپرې شوې دي، دپښتو افسانوي ادب

دابتدائي اثارو څۀ قدر څرك ليدلے شي، ددې قيصيو په حقله ښاغلے اسير منګل ليکي چې:

"پشتو کهانی کو نئ جهت بیسوی صدی کے آغاز میں ملی، ۱۹۰۲عیسوی جے جی لوریمر المعروف به لڑم پېرنګی نے ایك کتاب "اے ډکشنري آف وزیری لینګویج" کلکته سے شائع کی، جس کے اخر میں ایك بلا عنوان پشتوکهانی (رومن میں) بهی شامل هے، اس کهانے کا پلاٹ فارسی ادب کے مشهورومعروف داستان "ګل صنوبر" سے ماخوذ هے.اسی پلاٹ پر بعد میں منشی احمدجان نے "د ښتون بدل" لکهـ کراس لوك داستان کوپشتون معاشرت سے هم اهنګ کرنے کی کوشش کی، ـ ـ ـ لیکن یه پشتوافسانے کی طرف ایك حوصله افزا قدم ضرور هے، پشتو کے معتبر محقق، نقاداور افسانه نګار قلندر مومند نے اسے پشتو کا پهلا افسانه تسلیم کیا هے، تاهم بعض محققین کااس رائے سے اختلاف هیں، میرے خیال میں لڑم پېرنګی کے اس کهانی کو پشتو کا افسانه قبول کرنے میں کوئی حرج نهیں، البته یه ایك الګ بحث هے که ښتونوں نے اسے پڑهانهے اوراس سے کوئی تاثر نهیں لیا"(4).

خو جديد پښتو افسانې له خپلو ټولو خوبيو او فني لوازماتو سره د کال ۱۹۱۷څخه خپل مزل شروع کړے دے خو د پښتو افسانې دغه مزل بيا په درسته پښتونخوا کښې تر ۱۹۴۷کال پورې دومره ګړندے نۀ دے پاتې شوے البته د کال ۱۹۴۸ نه پس پښتو افسانې ډېر په چټکتيا سره مخ په بره سفرکړے، دلته ديوې خبرې وضاحت ضروري ګڼم او هغه داچې دپښتوپه اولنيوافسانو باندې دموضاعاتوپه حواله دمنشي پرېم چنداونورو اُردو افسانه نګارواثرات ډېر غالب ښکاري، زما په خيال ددغه دورافسانه ليکونکيود اُردو ژوره مطالعه لرله ځکه يې په شعوري اوغېر شعوري توګه ددغه دوردافسانه ليکونکيو په تقليد کښې افسانې ليکلې دي.

ترکومه حده چې دپښتوافسانې تعلق دے نوپه سهيلي پښتونخواکښې پښتو افسانه دقطبي پښتونخواپه نسبت څۀ درې پنځوس کاله وروسته اوياأووۀ دېرش کاله پسته په وجود کښې راغلې ده، خودلته په ادب کښې دعلاقائيت په وده کښې ددومره ځنډ وروسته لابيا هم ځنې اديبانو په

خپلو ليکونو کښې داهڅه کړې ده چې خپل نومونه دافسانه نګار په حېث دسهيلي پښتونخوا په وړومبيانو کښې شامل کړي، لکه دې لړ کښې ابوالخېر ځلاند خپل نوم دسهيلي پښتونخوا وړومبي افسانه نګار په توګه داسې ثابتوي:

"دا افسانه چې دفروري ۱۹۶۴ په اولس پښتو کښې شائع شوې ده، دهغې زمانې ډېرو لوستو پښتنو او بيا په وروسته کښې ډېرو اديبانو خورا زياته خوښه کړه، ـ ـ ـ اوس به راشو و دې موضوع ته چې آيا افسانه "ولور مات شو" واقعتاً دسهيلي پښتونخوا لومړۍ لنډه قيصه ده کايه ؟ نو په دې لړ کښې عرض دادے چې اولس پښتو کوټه په اکتوبر ۱۹۶۱ کښې پېل سوله ـ ـ ـ په جولائي ۱۹۵۳ کښې دکمال خان شېراني او ډاکټر خدائيداخان په ګډه مياشتنۍ، پښتو، پېل وکړے، ـ ـ ـ ترکومه حده چې زما دمعلوماتو تعلق دے، په ۱۹۶۴ کښې دغازي صاحب (فضل احمد غازي) دخورشيد له پېل کېدو څخه بيا په ۱۹۶۰ کښې د صابر صاحب دهېوادتر شروع کېدو پورې دلته افسانې رواج نۀ درلود، هن چې له کال ۱۹۶۱ څخه تر ۱۹۶۳ پورې په اولس کښې هم ځائي ليکوال دافسانې له ليکلو سره اشنا نۀ وو ـ ـ ـ له دې کبله بې دترديد له خوف څخه دا وئيلے شم چې ددې سيمې لومړۍ افسانه ، "ولور مات شو "، ، ده چې ما ځلاند کښلې ده"(5).

مخکښې تر دې چې دښاغلي ځلاند دې اقتباس ته څۀ دليل وړاندې کړل شي غوره ګڼم چې وړېسې محترم مقدس خان معصوم هغه وېناوړاندې کړم کوم چې په دې سيمه کښې دپښتو افسانې داوليت په حقله هغۀ کړې ده، معصوم صاحب په ورځ پاڼه جنګ کوئټه کښې ليکي چې:

" ميں نے ۱۹۴۶ سے پشتو شاعرى كا اغاز كيا اور ۱۹۵۲ ميں پهلا افسانه لكها اس طرح شعر كے ساتهـ ساتهـ افسانه بهى شامل حال هوا يا يوں بهى كها جاسكتا هے كه نظم ونثر دونوں نے دوش بدوش چلنا شروع كيا البته افسا نے بهت هى كم لكهے هيں مگر پهر بهى ايك كتاب سے زياده هيں"(6).

دمعصوم صاحب ددې بيان په رد کښې ښاغلي ځلاندصاحب خپل عکس العمل په دې ټکيو سره ښودلے دے:

"او دا چې نن په ۲۸ فروري ۲۰۰۲ ء کښې په ورځپاڼه جنګ کښې مقدس خان معصوم صاحب په ۱۹۵۶ ء کال کښې دخپلې لومړۍ افسانې لیکلو ذکر کړے دے، نو اول خو معصوم صاحب دقطبي پښتونخوا اوسېدونکے دے بل به دا افسانه په هغه وخت کښې چاپ شوې هم نۀ وي"(7).

دښاغلي ځلاندصاحب دا وېنا په ځائ ده چې معصوم صاحب دپښتو اول افسانه لیکونکے نۀ دے اونۀ ددۀ هغه ذکرشوې افسانه په پښتوافسانوي ادب کښې داولیت حق لرلے شي ځکه چې دا دپښتو نۀ بلکه داردو افسانه ده، خودمعصوم صاحب دافسانې په رد کښې چې ځلاند صاحب دپټواراو شهریت دقوانینو له رویه کومه فارموله وضع کړې ده هغه دادبیت له قانون سره سمون نۀ خوري.

اوس دلته که دافسانې داولیت په اړه دښاغلي ابوالخېر ځلاند دعوې ته ځیر شو نو دتاریخي اسنادواو دادبي تحقیقي څېړنوپه اساس داهم سمه نۀ ده چې دلته په دا سیمه دپښتو اوله افسانه په ۱۹۶۴ کال په اولس مجله کښې دمحمدعلي بازي له خوا خپره افسانه "ولورمات شو" ده چې په اصل کښې داهم دغه د ابوالخېر ځلاندلیکلې افسانه ده چې مذکوره بالاشخصیت خپل ځواني مرګي وروړته پېرزویلې وه، په دا حقله محترمه ف ـ م په خپله اہم فل تحقیقي مقاله کښې داسې لیکي چې،

"---بالاخر بلوچستان کے جدید پشتو ادب کے نامور ادیب جناب فاروق شاہ سمایلزی صاحب نے میری وہ مشکل اسان کردی جس کے لیے میں سالوں سے سرگرداں رہا ، فاروق شاہ صاحب کے معلومات کے اساس پر مجھے اپنی تحقیق میں اتنی پیش رفت ضرور ہوئی کہ میں کافی حد تك حقائق کے قریب پهنچ گئ ، دوسری یہ کہ۱۹۵۷ کے بجائے اگست ۱۹۵۳ میں لکھا جانے والا افسانہ بدل پشتو کا اولین افسانہ اور فاروق شاہ سمائلزی اس خطے کے اولین افسانہ نگارقرارپاتے ھیں"(8).

دامحترمه مخکښې په خپله تحقیقي مقاله کښې ددې افسانې په اړه نور وضاحت داسې وړاندې کوي:

" چنانچہ حقیقت وھی ھے ـ ـ ـ کہ بلوچستان میں پشتو کا اولین افسانہ تاحال بدل اور اولین افسانہ نگارفاروق شاہ سمائلزئ ھے جهاں تك

افسانه بدل کی فن وماهیت کا تعلق هے تو یه ایك مکمل افسانه هے جس میں مرکزي کردار افضل اور سائیډ کردار گل احمد هے اس افسانے کا پیش منظر، مناظراورواقعات دیهاتی ماحول کو لیے هوئے هے اس کا مقصد دیهاتی ماحول میں بچوکا تعلیم کی جانب رجحان پر مبنی هے"(9).

## دګلستان په پاڼو کښې پښتو افسانه :

په سهیلي پښتنخواکښې دپښتوافسانې دغه بهیر چې په ۱۹۵۳ءکال کښې دمیاشتینۍ رسالې " پښتو "له خوا راشروع شوے، وروستو د"ګلستان" مجلې په خپرېدو سره نور هم مخ په بره تګ وکړو، لکه د "ګل جمال "افسانه چې په فروري، ۱۹۵۷ ءکال، ۲مه ګڼه- پر مخ ۲۱بانـدې راغلې ده. د دې افسانې مرکزي کردارونه ګل جمال، بخمله او ریاض دي اوپه بنیادي توګه دا افسانه یوه کرداري افسانه ده، چې له دې کرداروڅخه چاپېره چورلي، دګلستان په پاڼوکښې بله افسانه دطالب تاجك "سهارته لیاډېر وخت دے "ده چې په جون ۱۹۵۷ ء، ګڼه اتمه، کال اول کښې خپره شوې ده، په دغه افسانه کښې د ترقي پسند تحریك تر اثر لاندې یوه ښکلې موضوع مخ په بره بېول شوې ده.

بله افسانه چې هم په دغه ګلستان مجله کښې چاپ ده دجان محمد الکوزي "نکریځې "نومې افسانه ده، کومه چې دبازاري حسن په اړه دیوې پښتنې جینۍ "رخشندې "دژوندهغه زړۀ سوے داستان ښودل شوے، دکوم په سبب چې دا له یوې غېرتي پښتون کورنۍ څخه تښتول کېږي اوڅۀ ډول ددهلي د حسن دبازار یوه رقاصه جوړېږي .

ګلستان مجله چې په جنوري ۱۹۵۷ ءکال کښې دفضل احمدغازي تر ادارت لاندې خپرېده، په بشپړ ډول دپښتوشعر اوادب پنګه لرله، چې مرستیال مدیر ئې مولوي عبدالخالق تارڼ وو.دایوه غېرسرکاري پښتو مجله وه، چې په کښې به ادبي اوسیاسي موضوعاتوباندې مشتمل لیکونه چاپېدل اویو نیم مضمون به کله نۀ کله د اُردو هم په کښې چاپ کېدو، له دې سیمې څخه په پښتو ژبه خپرېدونکې دا دویمه اهمه پښتو مجله وه چې دپښتو ادب

لمن ته ئې رنګه رنګ ګلونه راډالۍ کړل، په دا اړه هرکله چې ددې سیمې ادبي تاریخ لیکل کېږي نو به ددې مجلې ذکر په اول سر کښې راځي، ځکه چې داهغه رساله ده چې په بشپړ ډول ئې پښتانهٔ شاعران اوادیبان په خپله لمن کښې راونغښتل، اوهر کله به ئې ددوئ تخلیقاتو اوتالیفاتو ته په روڼ تندي ځاۍ ورکولو. دا مجله په یو تسلسل له خپل پیدائش څخه تر درې کالو پورې په ښهٔ ډول چلند وکړو البته یوځهٔ ګڼې ئې په ۱۹۶۰کال کښې هم چاپ شوې دي، ولې داهم ډېره زر د وخت د جبر ښکار شوه اوبیادتاریخ توروکندو ته ورپرېوته، دپښتوپه صحافتي اوادبي تاریخ کښې دا هغه ادبي مجله وه چې دپښتونخوا له ګوټ ګوټ څخه به ئې رنګه رنګ ګلونه راغونډول اولوستونکیو ته به ئې دپښتونخوادسمسوربڼ ښکلې ګلدسته ترې جوړوله، ځکه خوله دې مجلې څخه دخلقوهم ډېرې هیلې وې:

"په رښتیا هم ګلستان مجله دخپل وخت یوه داسې ادبي او سیاسي مجله وه چې په ډېر لږ وخت کښې ئې دپښتو لوستونکیو یوه پراخه ډله په خپل اغېز کښې راوستله اود دوئ په ذهني، سیاسي، علمي او ادبي روزنه کښې ئې دقدروړګامونه پورته کړي "(10).

په دې مجله کښې به دهغه وخت نومتو لیکوالو مضامین اود اشعارو نمونې خپرېدې، په دغو اهمو کسانو کښې فضل احمد غازي، ښاغلي قلندرمومند، حافظ خان محمد، سلطان محمدپاني، ایازداودزي، فاروق شاه سمائلزي، محمد زمان خان اچکزي، عبدالخالق تارڼ، عبدالصمدخان اچکزئ، محمداکبرخان اچکزے، جعفر خان اچکزے، مولانا عبدالقادر، همېش خلیل اویو شمېر نور شاعران اوادیبان شامل دي چې ددې مجلې په ښکلا کښې ئې بې مثاله اضافې کړې دي، اوپه خپله دګلستان په یوه ګڼه کښې دا وېنا پر ځائے ښکاري چې: "ګلستان په رښتیادښائسته ګلانودخوشنماپټیو دبارآور درختو او خوش آوازه مرغانو دچوېهارمجموعه ده، دې کښې دپښتو ادب نوازانودژوند حالات هم شته اودخوږې پښتوشهپارې هم .دپښتو ژبې وقارئې ښهٔ ښکاره کړے دے، دپښتو دژبې دهرې علاقې خوږهٔ الفاظ ئې ډېراستعمال کړي دي "(11).

خوپه کومه حواله چې مونږ ددې رسالې تذکره دلته کول غواړو هغه لکه څنګه چې له موضوغ څخه څرګنده ده چې په سهيلي پښتونخواکښې ددې مجلې په ګڼو کښې ليکل شوې افسانو سره علاقه ښودل دي، لکه څنګه چې دمخه ذکر شوے دے چې په ۱۹۵۳کال کښې "پښتو "اولنۍ مجله وه چې له دې څخه دپښتو اوله افسانه خپره شوه، ولې له ۱۹۵۳ څخه تر ۱۹۵۷ کال پورې په دا سيمه بيا دپښتوافسانې ترهغه هېڅ درك نۀ لګي تر څو چې دګلستان په ګڼو کښې يو ځل بيا افسانه راښکاره شي.

هرکله چې مونږ دګلستان په ابتدائي پرچو نظر اچوو نو دفروري، ۱۹۵۷ عيسوي کال په دوېمه ګڼه کښې د ښاغلي جان محمدزلمي " ګل جمال " نومې افسانه په نظر راځي، کومه چې ددې مجلې له شپږ ويشتم مخ څخه په وړاندې راغلې ده، ددې افسانې مرکزي کردارونه ګل جمال او دهغۀ کورودانه "بخمله "او درېم ستر کردار د ګل جمال ملګرے "رياض "دے، ګل جمال او رياض چې په کراچۍ کښې مزدورۍ پسې تللې وي، ولې دګل جمال کورودانه تر ډېره ددۀ دغه مسافري و نۀ زغملے شي اويوه ورځ له پښنورڅخه په رېل ګاډي کښې دکراچۍ په لور ور روانه شي، هلته رياض له سټېشن څخه بخمله د ګل جمال تر کواټر پورې ور ورسوي، ولې ګل جمال لکه بې غمه للے لياپه بستر کښې پښې نغښتې وي، دايوه کرداري افسانه ده چې څۀ قدرشډل ژوند يوعکس هم په کښې وړاندې شوے دے. ددې افسانې پلاټ کمزورے، ژبه ئې مصنوعيت لري، تسلسل ئې مات اوپه فني توګه ډېرې نيمګړتياوې لري، ولې دابياهم يوه افسانه ده.

دګلستان دهم دې کال دجون د مياشتې په شپږم نمبر ګڼه کښې يوه بله افسانه "سهار ته ليا ډېروخت دے "، چې طالب تاجك ليکلې ده اود ترقي پسندفکرپه پېروي کښې دمزدورانو، خواري کښونواودټولنې دځبېشاك ګرې طبقې په اړه يوه خونده وره افسانه ده، چې دصحبت خان مزدوردبدمرغه ژوندله احواله چاپېره چورلي، د افسانې پلاټ ډېرپه سادګۍ اواختصارسره هم دغه دصحبت خان دکردارپه بنياد د نورې نړۍ له مزدورانو سره دخپلو احساساتوپه شريکولويوښکلي تاثرقائموي، ترډېره حده دتسلسل خيال ساتي

اود یو خوار، غریب مزدوردباطن اوذهني کشمکش په وړاندې کولو کښې ترډېره حده کامیاب ښکاري، لکه په دې لاندې ورکړل شوي پېراګراف کښې اوګورئ.

"او چې منشي لفافه پرانستله نو په کښې کښل شوي وو، تا زما نه څلورسوه روپۍ درې کاله وړاندې د پلارپه مرګ د ګور کفن دپاره په دې شرط اخیستې وې چې کوټه به دې زما سره ګاڼه وي، او که چېرې تا دا قرض په درې کاله کښې خلاص نۀ کړے شونو کوټه به زما وي، د درې کالو معیاد دراتلونکې میاشتې په لومړي تاریخ پوره کېږي، دوه نیم سوه روپۍ مې اوس هم دربانديې دي، څۀ چل کوې یا خو دا رقم د دې میاشتې په اول تاریخ ماته راورسوه اویاخپله کوټه دې خالي کړه ---!کومه لیارنیسې ؟ خبرزر راکړه(12) ".

که څۀ هم افسانه لیکونکے دجملوترمېنځه ربط اودقیصې په بندش ساتلو کښې له مشکل سره مخامخ شوے دے، خوپه مجموعي توګه دا دترقي پسندفکرپه اړه په پښتوافسانوي ادب کښې دهغه مهال دافسانوپه تله یوښۀ کوشش دے.

دګلستان په ادبي پانو کښې بله داهمیت وړ افسانه دجان محمدالکوزي "نکریځې " افسانه ده، چې دیوې معززې کورنۍ یوې وړوکې بچۍ زیتونه چې وروسته د رخشندې په نامه سره شهرت ولري، په وړوکوالي کښې دیوچا دلاسه وتښتول شي اوهم دغسې له کوره تر لاهوره اوبیاد دهلي لوئے ښار ته ورسول شي، چې هلته دښارنومتو خوب رو رقاصه وبلله شي، خوکله چې له هندڅخه دخلقو هجرت پېل شي نو داهم له هجرت وروسته بیاد کراچۍ په بازار حسن کښې خپل نقش قائم کړي، دخدائ کړۀ داسې وي چې یوه ورځ دکراچۍ دیو لوئے سوداګر روشان خان د دوو ورونو وادونه وي، ښۀ ډېر لوئے بندوبست ورله شوے وي، دښارنامي خلق رابلل شوي وي، درقص اوسرود مجلس په خاطر دښارټولې نامي رقاصې رابلل شوې وي، چې په دې کښې رخشنده هم دخپل بې ساري حسن له کبله په اول سر کښې وه، ولې رخشنده نن څۀ له یونا لیدلي نفسیاتي کیفیت سره مخامخ وي، ماسترورته په زارۍ وي، خلق د رخشندې دبې شانه حسن اودهغې دبدمست رقص په طمع وي، خو

رخشنده نن هغه رخشنده نهٔ وي کومه چې چا دمخه چرته لیدلې وي، په نهٔ زړهٔ میدان ته ګډه شي، څرخي، یوخوابل خوا بې قابونظرئې دیوچا په تلاش وي، څهٔ ګوري چې مخامخ ورته دروشان خان وړوکې لور ″زینبه ″دنکریځوتال په سرپه چورلکونوورله مخې ته راشي، دزینبې په لیدو رخشنده له مزکې تر اسمانه سره ورکه شي، خپل ټول ژوند ورله دیوې ایینې په څېرمخې ته اودرېږي، کله چې دخپل ورور سره په رقص کښې بغلګیره شي نودابیا رخشنده نهٔ بلکه دهغهٔ هغه وړه خور زیتونه وي چې په خپل ټټر کښې دیوې خونکارې چاړې په ښخولو ورله دارمان په سلګیوکښې ددوئ د وادونو نېك مرغۍ نکریځي دخپل وجود له خوب رویه سور رنګ څخه ورکړي.

دا افسانه چې د بازارحسن د دنیا ښکار شویو جینکو د ژوند حال، د هغوئ د مینې دنیا ، د هغوئ د زړهٔ احساسات او جذبات او له هغه عواملو څخه بحث کوي د کومو له سببه چې دوئ دې حالت ته رسول شوې وي.

په فني توګه دا افسانه یو ښکلې تاثرخپره وي، یولوړ احساس راپاروي، له شروع نه تر اخره پورې له پلاټ سره دتسلسل اوتجسس په مزیو غښتلتوب لري، یوداسې مقصد واضح کوي چې دپېښېدو امکان ئې هم کېدلے شي، یوه انساني المیه بیانوي، یوپیغام لري اوهم داچې ستر ملي اوقومي غرورته اپیل کوي، چې اخر دامخلوق خوهم انسانان دي، دیوچا خوبه څهٔ وي، له یوچاسره خوبه ئې وینه اومینه شریکه وي، آیا د دوئ دمینې جهان به مدام هم دغه ننداړتون وي، نهٔ داسې نهٔ ده دوئ خو هم احساس لري، ژوندلري، ارزو لري اودرشتو احساس لري، لکه ددوئ داحساس دې اندازته پام وکړئ،

″درخشندې په ملالو سترګو کښې دوې رڼې اوښکې لکه دملغلرو وځلېدې، ـ ـ ـ دزیات دړد نه د رخشندې اواز په تالوکښې ډوب پاته شو، بابا زهٔ څوك یم ؟ کوم مې وطن دے، دچا لور، دچا خوراودچا ترلهٔ یم؟، بل لوري ته ماسټر ـ ـ ـ ژړغونې شو.

لورې تهٔ دښائست باچاګۍ اودا جهان ټول ستا دے.

دروغ دي با با دروغ دي، خوشامدي ده ټګي برګي ده.

لـوړې داخبـرې پرېـږده ځـان جـوړ کړه دمـوجرې حالـت راللـنۀ شـو خانـان سـر تېـره خلـق دي، دې خـوزۀ وارخطـا کـړې يـم، ماترنتـه پـورې داسـې ماجرانـۀ ده کړې، ـ ـ ـ (13) ″

دا يـوه ډېـره پـه زړۀ پـورې خونـده وره افسـانه ده، چـې لوسـتونکي لـه شـروع څخـه ډېـر پـه بيـړه اوچابکتيـا لـه ځـان سـره روان کـړي، اوپـه هرمنـزل ورتـه نـوے نـوے احسـاس ورکـوي او پـه آخر کښـې ورلـه يـو داسـې سـتر احسـاس او فکـر غوټـه کـړي چـې دلوسـتونکي ذهـن هـم دې خواتـه راوګرځـوي، اودا يقينـاً دافسـانه نګـار دفـن کمـال دے چـې لوسـتونکي تـه يـو لـوئے احسـاس پـه اخيـر کښـې ورواچـوي او خپل ملي درد له ټولو پښتنو وروڼو سره شريك کړے.

## داولس په پاڼو کښې پښتو افسانه :

لـه کـوئټې څخـه خپرېـدونکې اولـس دپښـتو هغـه ځـانګړې مجلـه ده چـې ددې سيمې دشعر اوادب په روزنه او وده کښې ئې سترکردار ادا کړے دے.

″دا لــه سـتمبر ۱۹۶۱ ء کــال راپــه دې خــوا د قبائيلودنشرواشـاعت څـانګې لـه خـوادامير عثمـان تـر نګرانـۍ لانـدې خپـره شـوې ده، چـې وروسـتو تـر ۱۹۸۲ ء کـال پـورې پـه داسـې حـالاتو کښـې وپائيـده چـې کلـه بنـده اوکلـه بـه دسـرکار دغوښتو تحت بيا پرانستل شوه ″ (14).

دسـهيلي پښتونخوادپښـتو ادب پـه روزنـه او پالنـه کښـې دې مجلـې چـې کـوم کـردار ترسـره کـړے دے هغـه لکـه دنمـر هسـې ښـکاره دے، کـه څۀ هـم ددې ابتـدائي مقاصـد اومهمـه فريضـه دافغانسـتان دادبـي بهيـرمخ نيـوے کـول او دولتـي اورګـانونواو تبليغـاتو تـه دوام ورکـول وو، ولـې ددې هـر څـۀ بـاوجود د اولـس پـه ګڼو کښـې چـې کـوم ډول ادبـي مضـامين، مقـالې، تنقيـدي کالمونـه، طنـز ومـزاح اودشـعر او شـاعرۍ دجهـان کـومې شـاهکار نمـونې خونـدي شـوې دي، دهغـې اهميـت اوافاديـت يوجهـان معتـرف دے، ددې مجلـې دغـه اثـاراوس نـۀ يـوائې ددې سـيمې دتـاريخ وثقافـت، دشـعروادب اوسياسـت پـه اړه يـو سـتر ارزښـت لـري بلکـه پـه دې کښـې چـې د درسـتې پښـتونخواکوم ادبـي اوتـاريخي

اثار خوندي شوي دي، هغه زمونږ د اوس مهال څېړونکيو د پاره يو ځلنده باب ورانديې کوي. او هغه د ډاکټر لياقت تابان خبره چې:

"ځنې ورځپاڼې او مجلې داسې وي چې ديو دور او يو نسل داسې ذهني روزنه وکړي چې د تاريخ په پاڼو کښې د تل د پاره په زرينو تورو خوندي شي، اولس مجله هم د سهيلي پښتونخوا هغه يو اځينۍ پښتو مجله ده کومې چې د دې سيمې د درو نسلونو ذهني او علمي روزنه وکړه او ځانله ئې يو داسې معيار او مقام پيدا کړ چې تر اوسه تر دې مقامه څوك نۀ دي ور رسېدلي (15) "

د اولس مجلې د نورو ځانګړتياو نه علاوه يو خصوصيت دا هم وو چې د مختلفو ادبي اصنافو سره به په دې کښې ښۀ په باقاعدګۍ سره افسانې هم چاپ کېدلې، د افسانې فن ته د ليکونکيو متوجه کېدل يقيناً ډېره حوصله افزا خبره وه.

په دې اړه اولس هغه غوره او منلې شوې ادبي مجله بلله شي چې له خپل ابتدا څخه ترورو ستۍ سلګۍ پورې ئې ګڼو افسانه ليکونکيو ته په خپله ګل ورينه لمن کښې په ورين تندي ځائے ورکړے دے، د دې مجلې په افسانوي پنګه کښې که څۀ هم ډېرنومونه ځائيول شوي دي، خو دلته له طوالت څخه د موضوع ژغرلو په خاطر د اولس مجلې په هغه ګڼوتکيه کولې شي کومو ته چې زما رسائي شوې ده ځکه چې د ډېرو کوششونو باوجود مې هم د اولس مجلې مکمل ريکارډ تر لاسه نۀ کړے شو.

د دې مجلې د اهميت يو سبب دا هم کېدلے شي چې د دې اکثره مديران او ورسره نور مربوط کسان په خپله د وخت ښۀ ښۀ عالمان او اديبان هم وو، لکه د فاروق شاه سمائلزي غونډې ساهو ليکوال هم د دې مدير پاتې شوے دے، څوك چې د دې سيمې ورومبے افسانه ليکونکے او تکړه اديب بللے شي.

لکه د مخه مو ذکر وکړ چې مياشتينۍ پښتو رساله اولس ۱۹۶۱ کال نه راپه دې خوا شروع شوې ده، ولې په دې کښې تر هغه د ځائي ليکوالو د افسانو په اړه هېڅ درك په نظر نۀ راځي تر څو چې ابوالخېر ځلاند د خپل مينه ناك ورور په نامه "ولور مات شو" په ۱۹۶۴ ء کال کښې وه ليکله، په دې اړه د محترم ابوالخير ځلاند دا دعوه په ځائے ده چې په ۱۹۶۴ ء کال کښې په اولس کښې دۀ

ددې سیمې اوله پښتو افسانه لیکلې ده، یعني دا دعوے په اولس مجله کښې داولیت په اړه سمه اودرسته ده ولې د علاقې په نسبت ناسمه ده، د ابوالخیر ځلاند دغه افسانه چې د ″میاشتینۍ سهار″ رسالې په توسط سره یوځل بیامونږ ته په لاس راغې، څۀ داډول مواد لري، ددې افسانې موضوع لکه څنګه چې له اوله ښکاره ده په پښتني ټولنه کښې دولور په اړه مسایل څېړل شوي دي، سُرګل چې د یو وړې پلار کردار په توګه وړاندې کړل شوے دے غواړي چې خپله لور ښاپېرۍ یو اویا کالن سپین ږیري ته چې دمخه لا دزامنو اونمسیو څښتن وي، محض داووۀ زره ولورپه خاطر ورواده کړي، ولې دسُرګل کور ودانه، دهغۀ زامن جمال اوکمال دې ته نۀ وي اماده، هغوئ غواړي چې د ښاپېرۍ ژوندله یوچا لوسته اوځوان سره وکړل شي، هغوئ ته د ښاپېرۍ له پاره که له یوې خوادسُرګل د اووۀ زره کالدارو په سرمراکه تیاره وي نوله بلې خواد جنان په رنګه یو دوولس جماعته لوستي ځوان سترګې هم په لاره وي، بیاهرکله چې افسانه لیکونکے د ولور رسم دسرکار په امر کرغېړن کړي، نو بیاډېر په چابکي اوبیړه سره ښاپېرۍ و جنان ته وروسپاري.

په پښتني ټولنه کښې دولور دناسور خاتمولو په اړه یوه ښکلې افسانه ده چې درست کردارونه، ماحول او مناظر ئې له هم دې ټولنې څخه ورته راغونډ کړي، دپلاټ رنګ وروغن ئې چې په کوم برش سره کړے دے هم په هغه مساله ئې بره تګ، انتهائي بره تګ اوخاتمه ترسره کړې ده، که څۀ هم ددې دموضوع له عظمت څخه انکار نۀ شي کېدے اوتر ډېره حده افسانه لیکونکے هم په دې کښې بریالے شوے دے چې د دې افسانې په وړاندې کولو سره په خپله ټولنه کښې داولس پام دې بدناسور ته راوګرځوي، ولې په کار داوه چې ددې ناسور دخاتمې له پاره له لاندې خوا په ټولنه کښې داجتماعي شعوربدلون هڅې شوې وے، نۀ دا چې له لوړې خوادسرکار په مرسته، اونۀ داسې چې کردارونه بې لاسو بې پښو کړل شي، محض په خبروله یوبل سره شخوند وهي، اونۀ غواړي یانۀ شي کولے چې ددوئ په لاس دې یو ټولنیزبدلون ولیدل شي خوغیبي مرسته دے دځان اوهم دټولنې بریا وګڼي.

البتــه دتیــولنیز بــدلون پــه اړه دافســانه لیکــونکي دخواسـت طریقــه کــارهم کــه دغیبــي امــداد پــه توګــه ومنــل شــي، نــو بیــاهم مقصــد ئــې نېــك دے، لکــه کلــه چــې دجنان دمینې کورګے ودان شي اوهغه بیا په ډکه خولهٔ داخواهش څرګند کړي چې:

"۔۔۔ دا ډول وجنــان تــه هغــه قــول ورپــه یادشــو چــې کــه وماتــه ووئیــل شــي چــې ستایوخواسـت قبلیـږي نوبـه زهٔ دا خواسـت وکـړم چـې خدایـه زمـونږ باچادقـام خواخـوږے جـوړکې ولـې چـې کـه دغـان پـه بـاب خواسـت وکـړم نویـوزهٔ بـه پـه راحـت شم خوکه دقوم دواکدار په باب ئې وکړم نوټول قوم به په راحت شي(16) ".

پـه دا سـیمه کښــې ځنــې داســې کــورنۍ هــم شـته چــې هغــوئ دادبــي کــورنۍ پــه نامــه ســره پېژنــدل شــوې دي، او لــه یــوې زمــانې څخــه پــه دې ادبــي شــغل کښــې داردو اوپښــــتوخدمت تــــه امــــاده دي، لــــه دې کورنۍ څخــــه یومشــــر ښــــاغلے ربنوازمائــل هــم دے، چــې ددې ســیمې پــه ادبــي تذکروکښــې دیــوګڼ اړخیــز شخصـیت پـه توګـه پېژنـدل شـوے اوهـم دخپـل ادبـي ژونـد پـه دې پـړاو کښـې ئـې پښتوادب ته د تخلیق اوتنقیدله رویه ډېر څهٔ سپارلي دي.

ددهٔ مضــامین، مقــالې اوځنــې یاداشــتونه لــه ابتداڅخــه تــر اوس مهــال پــورې پــه بیلابیلــو مجلــو، ورځپاڼواویاپــه کتــابي صــورت کښــې خپــارهٔ شــوي دي، دې نــه عــلاوه ددهٔ یوڅــو افســانې داولــس مجلــې پــه ابتــدائي ګڼوکښــې هــم چــاپ شــوې دي، لکــه "وطــن "نــومې افســانه چــې د ۱۹۶۵ ء کــال، پــه لســم نمبــر ګڼــه کښــې لــه ۳۹مــخ نــه تــر ۴۳مــخ پــورې راغلــې ده، دایــوه واقعــاتي افســانه ده چــې دشــهزاده پــه کــردار کښــې دجنــګ دتبــاهیو اوبربــادیو منظرونــه وړانــدې کــوي دشــهزاده مینــه ناکــه کورودانــه شــیرینۍ اونیازبینــه لورمــامونۍ هــم ددهٔ دبېرتــه روغ راتــګ پــه هیلــه دژونــد شــپې ورځــې ســبا کــوي، دجنــګ وروســتۍ نخښــې نخښــانې کــه څهٔ هم تـر یوانـداز راښـکاره شـي، ولـې یـوه ورځ د مخـالف لـه لـوري داسـې بـده پېښـه وشـي چې لـه سـببه ئـې شـهزاده زښـت ټپـي شـي اولـه ډېـر عـلاج وروسـته کلـه چـې دے جـوړ شـي نـو هـم ئـې هغـه څېـره نهٔ وي پـاتې کومـه چـې ددهٔ پـه څېـره دمخـه خلقـو لیـدلې وي اویــا دے وربانــدې پېژنــدل کېــدے شــو، نــو پــه داســې حــالاتو کښــې کورتــه راستون شي چې څوك ئې دپېژندلو نهٔ وي پاتې، یعني نهٔ لوراونهٔ کوروالـه.

دا افسانه یو مخیز بیانیه انداز لري چې دکردارونو په تخلیق کښې اوهم دمناظرو په وړاندې کولو کښې څۀ قدر د ریا رنګ پرې ختلے دے، دربنوازمائل دغه افسانه که څۀ هم ځنې فني خامیاني لري ولې بیاهم مونږ دغه دافسانې له چوکاټ څخه نۀ شو ایستلے .

دښاغلي ربنواز مائل دویمه افسانه په اکتوبر_نومبر ۱۹۶۷ ء کال، اوومه ګڼه، کال ۷ م کښې (مخ۱۷۸_۱۸۰) اولس مجله کښې د" لفتېن"عنوان تحت شائع شوې ده.

ددې افسانې مرکزي کرداراسلم چې ددرست کلي خوابدی، باوجودبیا هم په پوځ کښې دیو عام سپاهي په توګه بهرتي شي، خودخپل کمال توریالیتوب له کبله اخرپه پینځلس شل کاله کښې دلفتېن تر مرتبې ورسېږي، ددې افسانې دوېم ستر کردار داسلم چنغوله نیازبینه ده چې له اسلم سره ئې دهغۀ دسپاهیتوب له زمانې کوژده شوې وي، خواسلم یومخ ضد نیولے وي چې دے به په نن سبا کښې دخپل کمالي سرشندنې په سوب د ډېرزر تر لفتنی ورسي، نوبیا به په یووارد کلي له پېغوره خلاص شي.

په دغه افسانه کښې پرته دیو پوځي له مېړانې اوپه جاهلیت مبنې دهغۀ دترقۍ له سوچه بل داسې کوم کمال نۀ لیدل کېږي، چې هغه دې لوستونکي ودې ته مجبور کړي چې له ابتدا څخه تراخره پورې دې په یو نېب، په خوند خوند اوپه شوق سره ولولي، البته موضوع ئې نوې ده اوګمان کېږي چې دا به داردو افسانوي ادب تر اثر لاندې لیکل شوې وي، ځکه چې ښاغلے ربنواز مائل په خپله داردو ادب لویه مطالعه لري.

داولس په پاڼوکښې دښاغلي ربنواز مائل درېمه افسانه" یادونه" تر عنوان لاندې په جنوري _فروري، ۱۹۸۹ء، کال ۲۹، ګڼه اوله، کښې (مخ ۱۷ _۲۴) شائع شوې ده.

په دا افسانه کښې دهغې زمانې تراخۀ واقعیتونه بیان شوي دي، څۀ وخت چې دهند وېش یقیني شو، اوپه ځنې علاقو کښې دمیشتو اقلیتونو ددر بدرۍ ورځې پېل کېدونکې وې، هم په دغه تسلسل کښې افسانه لیکونکے دخپلې سیمې لورالائي وخوا ته اباد دیو څو هندوانو او سیکهانوسره دخپل وړوکتوب له زمانې تر داکډولۍ پورې واقعاتو یو روداد بیان کړے دے، چې

پـه دې کښـې مهـم کردارونـه هرسـبنس سنګهـ ( چـې ددوئ اسـتاذ وو)، تلسـي داس اودهغـهٔ مـور( چـې لـه دوئ سـره ئـې ډېـره مينـه درلـوده ) او لـه دې پرتـه د وړانګـو سترګو ځښتنه "اجوتتي " ده.

دا افسـانه يـوه ښـکلې ابتـدالرې، ښـکلې پـس منظـر وړانـدې کـوي، سـوکه سـوکه مخ پـه بـره مـزل پـه کښـې شـوے دے، کردارونـه اومنـاظر ئـې پـه فطري توګـه راغـول شـوي اوهـم ډېـر پـه ښـکلې شـان دژوندتجربـه ورپـورې مربـوط ده، خوکـه ددې افسـانې ځـهٔ نيمګړتيـاوې کېـدلے شـي هغـه داچـې دا پـه مقامـاتو وېشـل شـوې ده لکـه لـه يـو مقـام نـه واخلـه تـر اتـم مقـام پـورې او دمقامـاتو دغـه پړوکيـو ورلـه بـې ځايـه طوالـت پيـدا کړے دے، ولـې افسـانه ليکـونکے پـه دې بريـالے شـوے چـې ددې انجام دې په يو ښکلې تاثرسره وکړے شي.

دپښـتو ادب اودصـحافت دميـدان هغـه نوميـالے چـې لـه يـوې زمـانې راسـې ددې سـيمې دادبـي کـاروان سـتر ملګـرے پـاتې شـوے دسـلطان محمـد صـابر شخصـيت دے، چـې لـه ۱۹۵۹ ء کـال څخـه راپـه دې خـوا ئـې دپښـتو پـه صـحافتي ډګـر کښـې داووهٔ ورځنـۍ ( چـې وروسـتو پـه ورځپاڼـه بـدل شـو) " هېـواد "اجـرا هـم کړې ده.

سـلطان محمدصـابر چـې پـه جديدپښـتوادب کښـې د يونومتواديـب، دصـحافت د ډګـر يولوړرتبـه مـنلے جرنلسـټ او د تـاريخ پـه حوالـه ديونومـوړې پښـتون مـورخ پـه حيثيـت پېژنـدل شـوے دے، دې نـه عـلاوه د هغـهٔ افسـاې هـم پـه "اولـس" مجلـه کښـې چـاپ شـوې دي چـې لـه هغـو نـه يـوه " پـه زاړو کنـډولو کښـې "دماشـوم ژړا" ده چـې پـه اپرېـل ۱۹۶۶ ء کښـې داولـس رسـالې پـه اووم نمبـر ګڼـه کښې راغلې ده.

پـه دا افسـانه کښـې د رېـل ګـاډۍ دسـفر پـه دوران کښـې د کـوټې ښـار د دوو اوسـېدونکيو تـر مېنځـه ددې ښـار پـه ودانيـو يـو مجلـس پيـل شـوے دے، چـې بـالاخر قيصـه لـه يوسـره غالبـاً ددې ښـار د ۱۹۳۵ ء کـال قيامـت خېـزې زلزلـې تبـاهۍ خـوا تـه توجـه وړي، لکـه څنګـه چـې ددې زلزلـې ددهشـت پـه بـاب وئيـل شـوي دي چـې لـه دې سـببه ددې ښـار ډېـرې ودانـۍ زيـان منـې اوښـار تـه نژدې يـو ځوکليـوالې سـيمې ببخـي پـه کنـډواليو بـدلې شـوې وې، نـو پـه دې افسـانه کښـې دافسـانه ليکـونکي دغـه ديانـدې سـيمه اودشـېخانو دکلـي دکنـډواليو تـذکره او

په دې کنډواليو کښې دماشوم ژړا به هم دغه دزلزلې له اثراتو نتيجه وي، ګويا په کنډواليوکښې به هم دغه يو هلك پاتې ووچې دهغهٔ دژړا اثرافسانه ليکونکي په داخپله افسانه کښې دتل له پاره خوندي کړ. دسلطان محمد صابر دافسانواوافسانوي صنف په باب ښاغلي اسير منګل ليکي چې:

" دسلطان محمدصابر د افسانو انداز بيانيه او روايتي دے ولې هغهٔ چې يه کوم فنکارانه استعداد دخپلوافسانوله پاره موضوعات په کوم مهارت سره راغونډ کړي، هغه يقيناً دستائيلو وړ دي، دهغهٔ په قيصيوکښې دخپل چاپېريال عکاسي ډېرپه غوره انداز سره شوې ده"(17).

ددې سيمې دافسانوي ادب تاريخ په څېړلو کښې چې کوم بل شخصيت مخې ته راځي هغه دمولوي عبدالخالق تارڼ دے، ددې سيمې په ساهوادب کښې ددهٔ نوم هغه وخت راښکاره کيږي څهٔ وخت چې په ۱۹۵۷ءکال کښې دښاغلي فضل احمدغازي له خوا خپرېدونکي ګلستان مجلې دمعاون مديرذمه واري هغهٔ ته وسپارله شي اوهم دغسې له دې مجلې څخه ددهٔ دشعراوادب ازانګې بيا ترلرې لرې واورېدلې شي، ترڅو چې ګلستان چلېده نوددې په هر ګڼه کښې ددهٔ علمي مضامين اودسيمه ايزو مسايلو په اړه کره نقد به مدام داولس اوهم دادبي حلقه اثر په ګټه تمامېدهٔ، ولې هرکله چې په ګلستان دحالاتو تاودهٔ بادونه راسر شول نو بيائې اولس مجله دخپلواحساساتو اوخيالاتواظهارزريعه وګرځوله .

په اولس مجله کښې ددهٔ له نورو رنګه رنګ مضامينوپرته يوه افسانه "دمينې تور " چې د دسمبر۱۹۶۷ء کال په دويمه ګڼه کښې خپره شوې ده.داهم هغه افسانه ده چې ښاغلي عبدالکريم بريالي ددې د اوليت په اړه په خپل يومضمون کښې اظهارکړے دے، چې په تېروپاڼوکښې وربانديې کره بحث شوے دے.

ترکومه چې ددې افسانې دموضوع تعلق دے نودايوه رومانوي افسانه ده چې دخپلوژوندیو کردارونو، رومانوي فضا، جانداري مکالمې، خونده ورتاثر، پرله پسې تسلسل اوديوداسې مينه ناکې قيصې حيثيت لري چې دخپل مزل په وروستۍ پړاوکښې ئې دعاشقانو په زړونويوه لويه ويره اوبوږنوونکے کيفيت خپورکړے دے، خوکه ددې افسانې په فني ماهيت پام

وکړے شي نوپه دې کښې څۀ قدر ډرامائي طرزهم اختيارول شوے دے، چې دالفاظو اوجملو په سکښت کښې ئې دشاعرانه طرز انداز وړانګې له ورايه ښکاري، ځنې وخت دقيقصې خوندرنګ سپوه کولوپه خاطر اويا خبرې ته ددليل راوړلو په خاطر پارسي شعرونوته هم ځائ ورکوي، په افسانه کښې شعرځايول اوهغه هم دبلې ژبې که يو خوادابلاغ مسئله پيداکوي نو له بلې خوا دافسانې وجودته هم تاوان رسوي، پرته له دې ښاغلے تارڼ صاحب هرکله چې دافسانې تمهيدتړي نوهم هغسې دډرامې په څېر اول دکردارونوپېژندګلوي او ورسره نورتوضيحات وړاندې کوي. که څۀ هم دا يوه خونده وره افسانه ده ولې افسانه ليکونکے ددې دحقيقت په باب داسې معترف دے چې:

"ددې افسانې هر کردار، هرلفظ اودالفاظوهر قطار رېښتينے اوله صداقته ډك دے، - - - زۀ ليکم حقيقت خو رنګ دافسانې ورکوم "(**18**).

له دې افسانې څخه که يوې خوا ته ددۀ د کلام رنګينې، دالفاظو سلاست، رواني اوشيرين انداز له ورايه ښکاري نوبل خواته ئې په جملوکښې يوتربله لکه دنظم په رنګه غنايت هم برېښي، لکه په دا جملوکښې اوګورئ،

"د رابيا ملا دهندپراچېن ملاګانې شرمولي، سرۀ سپين ګلابي بارخوګان، پراخ مخ، پراخ سپين تندے - - - د کټوري په شان خلۀ، تك سپين يو رنګ شمېر غاښونه لکه په لاله کښې چې ګنګړے پروت وي، يوه پېغله وه، فقط ښاپېرۍ وه ګل پرۍ وه.دچګل شين خالۍ پېغلې ئې شرمولې "(**19**).

ددې افسانې مهم ټکي يوه دحسن ارزيابي، بل دحسن بې قدري ده اوژوند چې دعمل اواعتمادنوم دے په دې کښې بې باوره کېدل دټولوفتنواواندېښنو سرچېنه ښودل شوې ده.

ددې سيمې دادبي بهير په سپين روبيو کښې دمحترم استاد سيدعابد شاه عابد په څېر ځنې داسې هستۍ هم مخې ته راځي چې هغوئ خپل ټول ژوند د پښتو ژبې خدمت ته وقف کړے دے. هرکله ئې چې شعروئيلے نوئې دشغل په خاطر نه بلکه دباطن داحساساتو داظهارديوې وسيلې په توګه، اوکه ئې افکارپه نثر کښې پېيلي دي نوهم ئې غرض بندګي، عاجزي، مسکينيت اودانسانيت خدمت ګرځولے دے.

کـه څـۀ هـم دمحتـرم اسـتاد دفـن ډېرا ړخونـه دي خـو کـه ددۀ لـه فـن څخـه يـواځې دافسـانې تړتـه راوخسـتله شـي، نوله استادسره هـم هغـه داجمـل ختـك پـه څېـر چـې "زۀ افسـانه نـۀ شـم لـيکـے"،او" دوه جهنـډې"، غونـدې تړوکـه شـوې ده، يعنـې محتـرم اسـتاد عابدشـاه صـاحب هـم هـر کلـه چـې" د ګـودر پـه غـاړه "د "سـپين کـالي جبـب خـالي" نمائش کړے نو ترې را ولاړ شوے، چې بس دې دا ګودر دې دنورو مبارك شي .

دمحتـرم اسـتادله دغـه دوو افسـانو څخـه "دګـودر پـه غـاړه "داولـس پـه ۷مـه ګڼـه، مـئ، ۱۹۷۰ء کـال کښـې شـائع شـوې ده،البتـه ددۀ بلـه افسـانه چـې هغـه هـم پـه اولـس کښې چاپ شوې ده په لاس را نغله .

پـه شـلمه پېړۍ کښـې دپښـتنوله مشـر کهـول اديبانوڅخـه يـو عبـد الفتح پښـتون هـم دے، چـې پښـتو ژبـې اوادب سـره ئـې بـې کچـه مينـه ښـودلې ده، پښـتوادب تـه ددۀ دپېرزوينـو اولورېـدنو ډالـۍ دپلوشـې مجلـې پـه تسلسـل کښـې ويړيابښـکاري، پرتـه لـه دې دۀ دوخـت پـه نـورو مجلـو اوورځپاڼوکښـې هـم پـه ځنـې مسـايلو دخپلوخيـالاتو، احساساتواوسپېڅليوافکارو پلوشې خپرې کړې دي.

ددۀ لـه روان قلـم څخـه پښـتو نثـر تـه چـې کـوم افکـار رارسـېدلي دي دهغـې فهرسـت کـه څـۀ هـم ډېـر اوږد دے، خوکـه لـه دې مشـت خـروار څخـه يـواځې ددۀ پـه افسـانوي فـن يـوزغرد نظـر داولـس مجلـې پـه رڼاکښـې وړانـدې کـړل شـي، نـوداولس پـه پاڼوکښـې" دکهالـۀ مشـر" نـومې افسـانه چـې پـه اکتـوبر، ۱۹۷۳ء کـال، پـه ۹مـه ګڼـه کښـې خپـره شـوېده، وروسـې د "دکلـي ميـر "نـومې افسـانه د اکتـوبر، ۱۹۷۷ء کـال، پـه ۲۰مـه ګڼـه کښـې خپـره شـوې ده اوبلـه افسـانه ئـې "دمـورپېرزوينې "ترعنـوان لانـدې پـه مـارچ، ۱۹۷۸ء کـال پـه ۳ مـه ګڼـه کښـې شـائع شـوې ده. د "کلـي مېـر "نـومې افسـانه چـې يـوه بيانيـه طرزواقعـاتي افسـانه ده ديـو تکـړه، غښـتلے او زړۀ ور ځـوان چنـار خـان دزور اوقـوت داسـتان پـه کښـې بيـان شـوے دے، ولـې هـر کلـه چـې هغـه لـه برمـه پرېـوځي نو بيانۀ يواځې دے بلکه درست اهل اوټبر ئې دکلي د پېچموزي اوخنداوړ شي.

"د کهالـۀ مشـر "نـومې افسـانه کښـې دپښـتنې ټـولنې ځنـې جاهلانـه رسـوم پـه نخښـه کـړل شـوي دي، لکـه ديوجاهـل، وحشـي، عيـاش اوانتهـائي بدپالـه سـړي رشـته لـه يـوې انتهـائي شـريف الـنفس، حيـادارې، باوفااوپـت پـالې ښـځې سـره تـړل. ددې افسـانې اهـم مقصـدپه ټـولنيز ژوندکښـې ددوو کورنيـو اويـا ددوو رشـتولحاظ سـاتل، دښـځو دتقـدس اودعـزت الـنفس خيـال سـاتل اوداچـې سـړے پـه هـره حوالـه بـالاتر نـۀ

دے بلکه ښځه ذات دټولنې تر ټولو مهم رکن دے، لکه اوګورئ په دا افسانه کښې دګل حميد دکردار په مقابل کښې دتور پېکۍ دکردار اراسته معيار.

"--- تورپېکۍ دزامنو په مخ کښې دګل حميدپه بدوټکو اوبده وضع ډېره خوړل کېده، دې نۀ غوښت چې زامن ئې دګل حميد کړۀ وړۀ ووينې، دې نۀ غوښت چې زامن ئې په دې کړو ګرومجن وي اويا سبا دپلار علامې خپلې کړي "(20).

په پښتو ادب کښې دافسانې دابتدا په بحث کښې ډېرو نقادانو په دې نقطه ټينګار ورکړے دے چې که چرته پښتو افسانه له ۱۹۰۲ء کال څخه حساب کړل شي نو بيا تر ۱۹۱۷ او ۱۹۱۹ء کال پورې دافسانې بې درکې څۀ معنا لري؟ اوهم دغسې که پښتو افسانه رسماً له ۱۹۱۷ او له ۱۹۱۹ء کال څخه ابتداکېږي نوبيا ئې دماسټر عبدالکريم تر ځولۍ ګلونوپورې سست روي څۀ له ده؟ دا او دې ته ورته يوډول نورو سوالونو په باب دپښتو ادب سترو پوهانو ډېر دقدر وړ اومثبت ځوابونه وئيلي دي.

خو که مونږ دا دپښتو ادب يوه اتفاقيه وبولو چې جے جي لوريمر په اې ډکشنري اف وزيري لېنګوئج کښې دوې داسې قيصې په پښتووليکلې چې دهغو له افسانوي ساخت څخه انکار ناممکن دے، نو بيا دا اوږده خاموشي له ډېر ځنډ وروسته دمنشي احمدجان په "پښتو "او "دپښتون بدل "کښې څۀ لږ ډېرګنګوسے پېل کړي، کله چې راحت زاخيلي کنډه جينۍ او شلېدلې پڼه وليکې، نوددې دسکوت ځپې بيا دځولۍ ګلونو په خوشبو کښې يو ډول نغمګي کيفيت خپورکړي ولې ددې دحسن جلوې هغه وخت په اب اوتاب شي څۀ وخت چې باچا اوقلندردواړه په يو شان ددې دحسن طلب ګار شي. څنګه چې په قطبي پښتونخواکښې پښتوافسانه له شډل کيفيت سره مخامخ وه، دلته په سهيلي پښتونخواکښې هم دپښتو افسانې ابتدااوپرمختيا دې ته ورته کيفيت سره مخامخ شوې ده، يعنې هرکله چې په ۱۹۵۳ء کښې نومتوااديب اوشاعر ښاغلے فاروق شاه سمائلزي په پښتو مجله کښې " بدل " افسانه په دا سيمه ليکلوسره دجديدپښتو افسانې شروعات وکړلو، نوپه کار دا وه چې ددې سيمې نوروځائي ليکونکيو دم دغه صنف ته متوجه شوي وے، خودلته هم هغه دقطبي پښتونخوادافسانې دارتقا په څېر بيا تر ۱۹۵۷ء پورې هيڅ درك نۀ لګي ترڅو چې په ګلستان کښې يوڅودګوتوپه شمار افسانې چاپ

شي، هم دغسي دګلستان له ادبي بهیروروسته داتر ۱۹۶۴ء کال پورې یوځل بیاد جمود ښکار شي، تر څوچې محترم ابوالخېر ځلاند دا داولس په ګڼوکښې یوځل بیا په سیمه ایز ادب کښې راژوندی کړه، غرض داچې فاروق شاه سمائلزي صاحب په خپله هم دپینځلس شل کاله داوږدې مودې نه پس په اکتوبر، ۱۹۷۳ کښې داولس په ۹مه ګڼه کښې "دتوت ونه "نومې افسانه په لیکلوسره دې صنف ته بیا متوجه شو، هم دغسي په اولس کښې ددۀ یوځونورې افساني لکه " کړلے ښار" چې داولس په نومبر_دسمبر، ۱۹۸۱ کال، په ۱۱مه ګڼه کښې، " توتکۍ " چې په نومبر_دسمبر، ۱۹۸۲ کال، په کالیزه ګڼه کښې، د تاریخي افسانوپه اړه د "بدها" نومې افسانه کومه چې په ۱۹۸۵ کال کښې داولس په ۴مه ګڼه کښې شائع شوې دي ولیکلې، له دې افسانو څخه توتکۍ یوه بیانیه واقعاتي افسانه ده، چې دیوې رنځورې جینۍ دحسن ترڅنګ دهغې درنځورۍ اسباب ئې واضح کړي دي، په فني توګه داافسانه څۀ قدر نیمګړتیاوې ضرور لري، ددۀ بله افسانه " دتوت ونه "یوه علامتي افسانه ده چې انساني ژوند او دجهان دتشکیل فلسفه په کښې مطرح شوې ده، دا هم هغه دتوتکۍ په رنګه بیانیه طرز ته نژدېکت لري، ولې څۀ قدر حکایوي انداز وربانديې غالب ښکاري، خو "کړلے ښار" نومې افسانه بهترینه افسانه ګڼل کېدلے شي، په دا افسانه کښې افسانه لیکونکي دیوې زړې بوډۍ په کردارکښې دمزکې فطري ساخت دښاروالۍ په لوړو لوړو ودانیو، د تارکولي سړکونوپه غزونو اوهرچرې دهوا په ککړتیا ئې یو نرے شانتې فریاد کړے دے.

هم دغسي ددې سیمې له زړو افسانه نګارانو څخه یو مرزا خان پېښے هم دے چې ګڼ شمېر افساني ئې په اولس کښې شائع شوې دي، دمرزاخان له افسانوڅخه دا تاثر راولاړېږي چې دۀ ددې فن ژوره مطالعه لرله، بالخصوص په رومانوي ډګر ئې خپلوافسانوته ښکلي منظرونه سازکړي دي، په دا حواله ددۀ ځنې افساني شاهکار افساني بلل کېدلے شي، لکه " بربادژوند"، "راشه په زړۀ مې ګوتې کښېږده" اویوشمېر ځنې نورې.

دمرزا دافسانوپه حقله ښاغلے اسیر منګل لیکي چې:

"د مرزا افساني دروایتي حدوحال بڼه لري چې په هغې کښې دۀ دخپل چاپېریال عکاسي کړې ده، په تېره د ښځینه ذات په حواله سره چې کومې المیې دۀ وړاندې کړې دي هغه دستاینې وړ دي، ولې په افسانو کښې ترې تکرارډېر واردشوې، ـ ـ ـ خو ددۀ دافسانو اهم مقصد دټولنې اصلاح ده چې په دې اړه دے بریالے ښکاري اوهم دا ددۀ دافسانو یوستر کرېډټ دے"(21).

دمرزا خان ځنې هغه افسانې چې په اولس کښې چاپ دي له هغو نه "شوګیرې" د ۱۹۸۷ء کال، په شپږمه ګڼه کښې راغلې ده، "برباد ژوند "نومې افسانه ئې په اګست، ۱۹۹۰ء کال، دریمه ګڼه کښې راغلې ده، دا دهغۀ له یوشمیر ښکلیوافسانوڅخه ده، چې دمنظرکشۍ دفن په حواله یوستر ارزښت لري، دمرزاخان بله افسانه "راشه په زړۀ مې ګوتې کښېږده" ده چې په اولس کښې په نومبرـ دسمبر، ۱۹۹۰ء کال، په شپږمه ګڼه کښې شائع شوې ده، چې یورومانوي احساس په بیانیه ډول سره په کښې وړاندې شوے اوڅۀ قدر دخودکلامۍ اندازهم ترې ظاهر شوے دے.

دپښتوادب په وده کښې دسهیلي پښتونخوا دځوان کهول خدمات هم دچا نه پټ نۀ دي خصوصاً پښتوافسانې ته دځوان کهول له خواپه لویه پیمانه چې کومه توجه شوې ده هغه به کله هم دراتلونکي وخت دافسانوي ادب نقادان په هیڅ توګه نظر اندازنۀ کړي، ددغو افسانه نګارانوفهرست که څۀ هم ډېر اوږد نۀ دے خو دمعیاراومقدارپه حواله ئې پښتوافسانې ته خپلې بخښنې جاري ساتلې دي، په دغو افسانه نګارانوکښې د پروفېسر نذرمحمدنظر پانیزي نوم هم شامل دے.

ښاغلے نذرمحمدنظر پانیزے په پښتو ادب کښې دشعر نه علاوه یو ښکلے نثرنګار هم دے خو ددۀ دشهرت سبب ددۀ پښتو افسانې دي، چې له یوې زمانې په میاشتینۍ اولس کښې راخورې شوې دي، ددۀ دغه افسانې اوڅۀ ورسره نورې په ۲۰۰۷ ء کال کښې "د ازادۍ کاڼے" په نامه دمجموعې په شکل کښې منظرعام ته راغلې دي، ولې ددۀ هغه افسانې چې په اولس کښې شائع شوې دي له هغو نه یوڅوپه دا ډول دي لکه، "پروسیجر"، چاپ جولائي، ۱۹۷۷ء کال، "ماشومه"، چاپ جون، ۱۹۷۹ء کال، "دبنګړو

شـرنګ ″، چـاپ اکتـوبر، ۱۹۸۲ءکـال، ګڼـه_ ۹مـه، ″داخـوك ده″، چـاپ نـومبر_ دسـمبر، ۱۹۸۳ء کال،ګڼـه- ۷مـه، ″ پُـل ″ چـاپ مـارچ، ۱۹۹۰ء او دغسـې ځنـې نورې افسانې هم.

ددې افسـانو پـه رڼاکښـې کـه مـونږ د نظـر محمـد نـذر د افسـانه نګـارۍ د فـن يوه اجمالي شاتته خاکه وړاندې کولو زياراوکړو، نوهغه داسې کېدلے شي، چې

ددۀ دافسـانو ژبـه سـوچه، سـاده، ملينـه، کليوالـه، لـه ريـا اولـه بـې ځايـه لفـاظيو پاکـه ده، پـه قيصـه کښـې رمـز، علامـت، اشـارې اوکنـائې تـه تـر وسـه فوقيـت نۀ ورکـوي اوکـه چرتـه يـونيم ځـائے تـرې نـه استعمال شوي هـم وي نـو هغـه بـه دفـن تقاضـه وي، لـه ځنـې افسـانو څخـه ددۀ دسياسـې وابسـتګۍ اظهـارهم لـه ورايـه برېښـي، ولـې دے بـالعموم دطبقـاتي مسـايلو، دخـوار، غريـب اوځپلـې طبقـې نماينـدګي تـه زيـات فوقيـت ورکـوي لکـه پـه″ پُـل ″ نـومې افسـانه کښـې اويـا″دبنګـړو شـرنګ ″نـومې افسـانه کښـې، د ″دبنګـړو شـرنګ ″ او″دا څـوك ده ″ کښـې د يـو لـوړ کـردار رغـونې پـه ځـائے ددۀ خپـل شخصـيت اوداخلـي احسـاس يـوتر بلـه چرمېـړل شـوي دي، پرتـه لـه دې د دغـه افسـانوپلاټ پـه جوړښت کښـې هـم څـۀ قـدر سـقم تـرې ليـدل شـوے دے، اسـيرمنګل پـه خپـل اردو کتـاب "پښـتو افسانے کے سو سال" کښې د نظر محمدنذر دافسانوي فن په باب ليکي چې:

″ پـه مياشـتينۍ اولـس کښـې ددۀ يـو څوافسـانې خپـرې شـوې دي، پـه دغـو افسـانو کښـې دے دمعاشـي ناهمواريوپـه حقلـه غږېـدلے، اوددې پـه نتيجـه کښـې ئـې ټولنيزمسـايل رابرڅېـره کـړي دي، ددۀ دافسـانو انـداز زړۀ راښـکونکے دے″(22).

پـه عمـومي توګـه دنظرمحمدنـذراکثره افسـانې خونـده ورې او پـه زړۀ پـورې دي، خـوددۀ هغـه افسـانې چـې شـاهکار بللـې شـي ″پُـل ″، ″ پروسـيجر ″ او″ وينـۀ ″ ( چـې پـه تمـاس کښـې شـائع شـوې ده ) د يـادولووړدي. "پروسـيجر" افسـانه يـوه ښـکلې موضـوع، يوغښـتلے پـلاټ، جاندارکردارونـه، پـه فطـري مناظروکښـې ديـوې کـوچنۍ ماشـومې يـوه داسـې قيصـه ده څـوك چـې دظـالم نظـام، بـې حسـه اوخودغرضـه طبقـې د لاسـه دمـرګ وخـولې تـه ورلـوېږي، څـوك چـې پـه ظـاهره دانسـانيت دخـدمت دعـوه لـري، دا افسـانه يـوه ښـکلې ابتدااوتسلسـل لـري، ددې انجـام هـم ډېـر دردنـاك اوغـم نـاك ښـودل شـوے دےددې غـم نـاك انجـام تـر

شاديوې محسوسې طبقې دانسان دوستي په جامه کښې اصل څهره خلقو ته وړاندې کول دي.

په "پُل" نامي افسانه کښې دخوار اوغريب، دمزدوراوکارګر، دپرېوتې طبقې اودلوړې طبقې ترمېنځه فرق، دبې کوره اودماڼيودځښتنودژوند دتوپير يورنګين اوشيرين اندازپه افسانوي رنګ کښې وړاندې کړل شوے دے. دسهيلي پښتونخوا له ځوان کهول افسانه نګارانوځخه دچانوم چې دپښتوافسانوي ادب په نني جهان کښې لکه د نمر هسې هسك دے هغه ستر شخصيت دښاغلي فاروق سرور دے چې ئې نۀ يوائې مقبوليت په سهيل څرګند دے بلکه په درسته پښتونخوايوشان اثر لري، فاروق سرور د پښتوافسانوي ادب هغه ستره حواله ده چې پښتوافسانه کښې ئې متنوع موضوعات په افاقي تناظر کښې پېش کړي دي، ددۀ په فن اوفکر که هرڅودعلامت چاپ خپور دے خو دا علامت نګاري هم داسې نۀ ده چې دنظر خاوندان دې پرې نۀ وپوهېږي ياپه نوروټکوکښې مونږ داوئيلے شوچې دفاروق سرورافسانې دابلاغ کومه مسئله نۀ لري البته دهغۀ رسافکرته درسېدو دپاره يورساذهن په کار دے، ددۀ هره افسانه بالعموم يوه نوې موضوع وړاندې کوي کوم چې ددۀ دعالمي ادب دمطالعې ښکارندوي کوي.

د ښاغلي فاروق سرور د افسانو پېنځه مجموعې "دريه" "لېوۀ" "تنده" "سکروټې" او "ګرګې ګيرکه" چاپ دي. خو په اولس مجله کښې چې دښاغلي فاروق سرورکومه افسانه شائع شوې ده هغه دنومبر- دسمبر، ۱۹۸۳ کال، اوومه ګڼه کښې راغلې افسانه " تږې تنده" ده، ولې ددۀ دغه افسانه هلته په "دريه" نومې مجموعه کښې د"قيامت "تر عنوان لاندې خپره شوې ده، دعنوان دابدلون ګوره کوم تاويل لري د دې سبب چرته نۀ دے واضح کړے شوے اونۀ کوم چا ورته اشاره کړې ده. څنګه چې دفاروق سرور اکثره افسانې په علامتي ډګر تړل شوې دي، دغه شان ددۀ دغه افسانه هم په علامتي چوکاټ کښې بنده ده، کۀ څۀ هم له دې هر څوك دخپل فکر مطابق يو رنګ اخستے شي ولې تر کومه چې زۀ ددۀ ددې افسانې په علامت پوهېدلے يم، هغه داچې دا د" زۀ "، "انا "اويا د" ما " له ټکي رغول شوې ده، اوچا چې په ژوند کښې په دې ټکيو زور ورکړے اويا ئې له ځان نه تاوکړي هغه بياکله هم

په بره نۀ دي تللي، په دنيا کښې ځان ځاني، خودغرضي اومحض دخپل ذات په دائروکښې بند پاتې کېدل نۀ يواځې دهغه ذات دتباهۍ سبب ګرځي بلکه ددرستې ټولنې تباهي هم په دې پورې مربوطه ده، فاروق سرورهم په دغه افسانه کښې دلوستونکيو توجه دې ټکيو ته داسې راګرځولې ده لکه په دې اقتباس کښې و ګورۍ چې:

" يوهم نۀ شو اوبۀ، يو هم دبل خبره نۀ منله، بس هر يودغه وئيل چې تۀ ماپوره کړه، خوزۀ له خپله پتکي د دوو ځاځکو څخه زيات والله که درکړم، اوبيا يودم مځکه په مېنځ دوه ځايه شوه، اوټول تږي سره له خپلو پتکيو په کښې ورك شول"(23).

دښاغلي فاروق سروريه افسانوي فن چونکې دوخت نقادانو ډېر څۀ ليکلي دي، نو زۀ ددۀ په افسانو له زيات څۀ ليکلو څخه په دوو وجوهاتوډډه کوم يو داچې ددې ګڼ اړخيزه مقالې چوکاټ دومره پلن نۀ دے چې د ښاغلي فاروق سرور دارت فن اوفکر هره خوادې په کښې ځائے کړل شي، بل داچې د ښاغلي فاروق سرور د افسانو په حقله يوه بيله مفصله مقاله تر کمپوز لاندې ده.

البته داچې فاروق سرور افسانه څنګه ليکي اوددۀ د افسانې مواد له څۀ ډول ختې څخه رغول شوے وي، په دې اړه اوګورئ دښاغلي اسيرمنګل دا اعتراف چې:

"د جديدپښتو ادب په افسانوي صنف کښې فاروق سرور هغه مينه ناك او خوږ نوم دے چې دټول اوقدر په لحاظ ئې پښتوافسانه ته ډېر څۀ ورکړي دي، ددۀ په افسانو کښې نۀ يواځې دځائي پښتنو دټولنيزو، سياسي اودلوږې مسايل څېړل شوي بلکه دټورې کرښې په اخواد پښتنو ورونو دسترې ژوند دړدناکې قيصې هم ليکل شوې دي، دے يو جهان مطالعه لري، په هره مسئله ژورنظر لري، دے دانسان له داخل اوله نفسياتو څخه ډېر څۀ راباسي، په پښتو افسانوي ادب کښې ئې دستاينې وړ رنګه رنګ تجربات کړي دي، روايتي افسانې په علامتي رنګ کښې اړونه اوبېرته داپه تجريدي ارټ کښې رانغښتنه ددۀ دفن خاصه ده اوداچې ژبه ئې ساده، سليس اودفهم وړ ده"(24).

پرته له دې يو شمېر نورداسې ليکوالان شته چې دهغوئ افسانې هم داولس مجلې په بيله بيلو ګڼو کښې خپرې شوې دي، لکه دمقدس خان معصوم افسانه " داوښکو قيمت " ده چې په اګست، ۱۹۸۸ کال، په اوومه ګڼه کښې راغلې ده، دپلاټ، کردارونو، ماحول اودنوروفني تراکيبو په لحاظ يوه ښکلې افسانه ده البته که چرته يونيم ځائے څۀ نيمګړتياپه کښې وليدے شي نوهغه دقاسم خان په کردار کښې دبې شانه لوړتيامداراجو ته درسېدنو حېرانوونکي منازل دي، اودغزالې له خپل مېړۀ څخه نۀ پوهېدونکې کرکه اوبيا دمېړۀ ترمرګ وروسته نابېره ددوو سترګوپه جنګ کښې تروادۀ پورې رسېدل لږ ډېر د افسانې فني حسن ته زيان رسولے دے.

په دا لړ کښې ديوبل ځوان ليکوال، فنکاراوهنرمند اسماعيل شاه نوم هم د هېرولو نۀ دے. اسماعيل شاه د دې سيمې په افسانوي صنف کښې هغه باصلاحيته ځوان وو چې که چرته ژوندپه دۀ مهربانه پاتې شوے وے نونن به ددۀ تخليقات ديوسترفنکار په توګه يادېدلے، ددۀ يوڅوافسانې کومې چې اولس مجله کښې چاپ دي له هغونه " سرۀ بنګړي " افسانه چې په ۱۹۸۱ عيسوي کال، په نهمه ګڼه کښې خپره شوې ده او بله " ولور" چې په مارچ، ۱۹۸۳ کال، په دوېمه ګڼه کښې چاپ شوې ده، په سرۀ بنګړي نومې افسانه کښې دمنظرکشۍ انتهائي خونده ورانداز ليدل کېږي چې ددې ترمخه ډيرکم افسانه ليکونکي به کامياب شوي وي چې دغه ډول مناظردې نقش کړے شي، کردارونه ئې محرك اوجاندار دي، د موضوع انفراديت او نوے والے په ځائے لري، هرڅوکه رومانيت ترې څرګندېږي ولې ددې په تل کښې يو سترتولنيزمقصدمخ په بره بيائي، کردارونه ئې په فطري توګه له يوبل سره مربوط اوتجسس ئې داسې چې لوستونکے په بېړه بېړه دخاتمې په لور بيايي. د دۀ بله افسانه " ولور " که څۀ هم يوه تکراري موضوع راسپړي ولې په دې تکرارکښې يوګونه نوے والے ضرورشته، البته دجملو په بندش اودقيصې په فني سکښت کښې څۀ قدرنيمګړتيا ترې ضرور راغلې ده.

پرته له دې دنذرمحمدشهاب افسانه " سوے سکور" چې داولس مجلې په جنوري- فروري، ۱۹۹۱ عيسوي کال په اوله ګڼه کښې راغلې ده، يوه

کرداري افسانه ده چې واقعاتي رنګ وربانـدې غالـب دے، نـذر محمدشـهاب په دا فن کښې واردشوے ضرورد ے ولې دې خواته ئې رسماً توجه نۀ ده کړې.

ددې مقالې رانغښتلو ترمخه چې کومه افسانه په لاس راغـلې هغـه دمحمد نعیم ازاد "زالوچه" نومې افسانه ده، چې د اپرېل-مئ، ۱۹۹۱عیسوي کال، په درېمه ګڼه کښې شائع شوې ده، چې په اصل کښې د "پښتو" ژبې دسترې ژوند يوړول الميه ده، خودا دافسانې په نسبت يوجذباتي تاثريسايوړول له جذباتوپړاود نويو نويو ټکوازموينومضمون ته ورته والے لري.

❁❁❁

# ماخذونه

(1) بريالے عبدالکريم، د بلوچستان د پښتو ادب زر کليز جاج، مشموله، ليکنځې، (وړومبے ټوک) پښتو اکېډمي کوټه، 1984ء مخ 137.

(2) بريالے عبدالکريم، د بلوچستان د پښتو ادب زر کليز جاج، مشموله، ليکنځې، (وړومبے ټوک) پښتو اکېډمي کوټه، 1984ء

(3) مبارکه حميد، بلوچستان ميں اردو افسانے کا تحقيقی و تنقيدی جائزه، نويد پبلی کيشنز فاطمه جناح روډ کوئټه، 2001ء مخ 228.

(4) منګل اسير، پشتو افسانے کے جديد رجحانات، مشموله پشتو ادب کے جديد رجحانات، مرتب عبدالله جان عابد، يونيورستي پبلشرز، پشاور، دسمبر 2008ء

(5) ځلاند ابو الخير، مياشتنی سهار، کوټه، 2002ء، (اوريجنل سکرپټ) مخ

(6) معصوم مقدس خان، روزنامه جنگ کوئټه، 28 فروري 2002ء بحواله تاج ايم فل تهسيز، 2003ء، مخ 9، 68.

(7) سهار اوريجنل سکرپټ، مارچ، 2002ء مخ 41.

(8) ايم فل تهسيز، بلوچستان ميں پشتو افسانے کا آغاز، ارتقا اور تاريخي پس منظر، 2003ء. مخ 66.

(9) ايم فل، مخ 67.

(10) تابان، ډاکټر، لياقت، مخ 38.

(11) ګلستان، اول کال، فروري 1957ء مخ 22، 23.

(12) تاجك، طالب، "سحر ته لاړ پر وخت شته" مشمولهٔ ګلستان، (مياشتنی) کوټه، 6 مه ګڼه، کال اول، جون 1957ء، مخ 21.

(13) الکوزی، جان محمد، "نکريځې" مشموله ګلستان، اګست، 1957ء، اول کال، ګڼه 8 مه، مخ 21.

(14) تابـان، ډاکتـر، لياقـت، د سـهېلي پښـتونخوا پښـتو رسـنۍ، (2008ء) ملګري ليکوال کوټه، مخ 40.
(15) دغه بره.
(16) سهار، اوريجنل سکرپټ، مخ 6.
(17) منګل اسير، پشتو افسانے کے سو سال، ستمبر 2002ء، مخ 25.
(18) اولس، دسمبر 1967ء، کال اووم، ګڼه 2 مه، مخ 25.
(19) هم دغه بره، مخ 7- 26.
(20) اولس، اکتوبر 1973ء، 13 مه ګڼه، مخ 2524.
(21) منګل اسير، پشتو افسانے کے سو سال، مخ 144.
(22) دغه بره، مخ 146.
(23) سرور فاروق، "دريه" د پښتو کاروان، کوټه، 1988ء، مخ 112.
(24) منګل اسير، پشتو افسانے کے سو سال، مخ 3- 142.